خامخا به تاسو خپل رب داسې وینئ لکه څرنګه چې تاسو دا سپوږمۍ وینئ پرته له کومې ستړتیا او سختۍ څخه

له جریر بن عبد الله رضي الله عنه څخه روایت دی وایي چې: مونږ یو شپه له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره وو چې سپوږمۍ ته یې وکتل - یعنې د څوارلسمې شپې وه - نو ویې فرمایل: «خامخا به تاسو خپل رب داسې وینئ لکه څرنګه چې تاسو دا سپوږمۍ وینئ پرته له کومې ستړتیا او سختۍ څخه، نو که چېرته مو وکولای شول چې د لمر راختلو څخه مخکې او له لمر پریوتلو وړاندې لمونځ درڅخه پاتې نه شي، نو دا کار وکړئ» بیا یې دا آیت ولوست {وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ قَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ الْغُرُوبِ}» یعنې: او د خپل رب له ستاینې سره «{تسبیح وایه له لمر ختلو نه مخکې او له لمر ډوبېدلو نه مخکې

[صحیح دی] [متفق علیه دی]

صحابه کرام رضی الله عنهم له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره یوه شپه ول چې سپوږمۍ ته یې وکتل، د څوارلسمې شپې سپوږمي وه - نو ویې فرمایل: مؤمنان به خپل رب بې له شکه په ریښتینو سترګو وینې پرته لدې چې اشتباه وکړي، پداسې حال کې چې یو بل سره به ټیل ماټیل نه کوي، نه به ستړي کیږي او نه به د هغه تعالی د لیدو پر مهال سختي ګوري. بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: که ومو کولای شول چې د سهار او مازدیګر له لمونځونو څخه منع کوونکي اسباب له مینځه یوسئ نو دا کار وکړئ، او په خپل وخت سره یې په جماعت سره ادا کړئ، ځکه چې دا کار د الله جل جلاله مخ ته د کتلو له اسبابو څخه دی. بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم دا آیت ولوست: (وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ قَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ الْغُرُوبِ) (او د خپل رب له ستاینې سره تسبیح وایه له لمر ختلو نه مخکې او له لمر ډوبېدلو نه مخکې).

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/5657